# اسلامي فقه کې په قسطونو سره د پلورلو حکم او تطبیقي بیلګې یې

**پوهنیار شفیع الله امیني [۱]، پوهنیار احمد غیور یوسفزی [۲]**
[۲،۱] اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.
برېښنالیک: shafiamini2233@gmail.com

**لنډیز**

دغه موضوع قسطونو سره د پلور په پېژندنه، احکامو او معاصرو تطبیقي بېلګو باندې څرخېږي چې اسلامي فقهې په رڼا کې څېړل شوې، دغه بیعه له نظرې پلوه د پخوانیو بیوعو څخه ده، د موضوع موخه په قسطونو سره د پلور په پېژندنه، حکم، د قسطونو پلور لپاره ضوابط، صحت لپاره شرطونه، د قسطونو د پلور تطبیقي بیلګې او مثالونو بیانول دي، د موضوع تګلاره استقرایي او میداني ده، د څېړنې پایلې ښکاروي چې د قسطونو پلور مشروعیت هغې مالونو پورې مقید دی چې سود پکې نه واقع کېږي؛ ځکه تأجیل یا قسطونه د جنس پر جنس سره بدلولو کې جواز نلري، همدارنګه د قسطونو بیع د (بیعتین في بیعة) یعنې په یوه بیعه کې دوه بیعو د ترسره کولو له جملې څخه نه ده او د جمهورو په قول سره دا ډول پلور روا دی؛ خو غوره دا ده چې باید په ټولو سوداګریزو معاملاتو کې په قسطونو سره پلور ترسره نه شي او د معاملاتو په ترسره کولو کې ترې د وسیلې په حیث کار وانه خیستل شي؛ ځکه په ځینو حالاتو کې د دې نه ضرر هم پیداکېږي.

**کلیدي کلیمې**: اسلام، بیعه، تقسیط، حکم، فقه.

**سریزه**

د الله تعالی له نعمتونو څخه یو ستر نعمت چې په خپلو بندګانو باندې یې کړي دادې چې بیع یې ورته روا کړې او سود یې پرې حرام کړی؛ ترڅو د خلکو دیني او دنیوي چارې سمې او برابرې وي، نو دا چې په ټولنه کې هر ډول خلک ژوند کوي نو ډېری خلک به داسې وي چې یو شي ته اړتیا لري خو د هغې د اخیستلو توان به نه لري، یا به توان لري خو پیسې به ورسره کمې وي؛ نو د دې لپاره چې د مسلمانانو سره د مرستی اصل رامنځته شي، په قسطونو سره پلور ته اړتیا لیدل کېږي. نن سبا په قسطونو سره پلور زیات ترسره کېږي او په دې بیعه کې پلورنکي او اخیستونکي لپاره ګټه ده، همدارنګه زیات بانکونه، مؤسسات او تجاران په همدې بیعې سره اخیستل او خرڅول کوي. بناء هدف له دې څېړنې څخه دا دی چې دا ډول بیعه ښه روښانه شي او احکام یې خلکو ته بیان شي. نن ورځ ډېر پلورل او پېرودول په قسطونو سره ترسره کېږي، مؤسسات او شرکتونه اعتبار ورکوي او د ګټې ذریعه یې ګرځولې، او دا بیعه د سودي معاملاتو څخه د خلاصون بدیله لاره ګڼل کېږي. همدارنګه د قسطونو پلور په هکله ډېرې فتواګانې شتون لري چې د راجح قول پېژندل په کې اړین دي. د قسطونو پلور وګړو ترمنځ مرسته

ده او د بې وزله وګړو د اړتیاوو پوره کولو لپاره یوه وسیله ده؛ نو پوهه ترلاسه کول پرې اړینه ده ترڅو خلک وکولای شي خپلې ستونزې پرې حل او په ټولنه کې یو لړ پوښتنو ته چې د دې بیعې په تړاو شتون لري ورته ځواب ورکړل شي. د ډېرې پلټنې څخه وروسته راته جوته شوه چې یاده موضوع باندې په ملي ژبو کې کومه څېړنه نه ده ترسره شوې، خو په عربي ژبه کې د سلیمان محمد بن عمر او ابراهیم محمد أبوحرارة مقاله (البیع بالتقسیط وأحکامه العملیة المعاصرة ) لیکل شوې ده. همدارنګه اړوند موضوع ته په هغه کتابونو کې چې معاملات یې څېړلي دي اشاره شوې ده لکه ( المعاملات المالیة المعاصرة ) د وهبة الزحیلي کتاب، نو اړینه مې وبلله چې په دې هکله یوه ځانګړې څېړنه ترسره شي.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه کتابتوني ده او له اړوند معتبرو او باوري سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده: د دې مقالې په تګلاره کې د لاندې پړاوونو په واسطه د څېړنې مواد را ټول شوي دي:

اول: استقرائي یعنې د پلټنې تګلاره: د دې ډول پلورلو اړوند د علماوو نظرونو او اقوالو کې څېړنه او پلټنه شوې ده چې د هغوی بیان شوي دلیلونه په څه باندې استناد کړی هغه ذکر شوي دي.

دویم : تحلیلي تګلاره : دې ډول پلورلو ته چې په کومو نصوصو کې اشاره شوې ده د هغې نصوصو تحلیل شوی چې دا بیعه روا ده او که ناروا ..!

دریم : میداني تګلاره : د دې ډول پلورلو په اړه ما د یو بانک مسئول او موټرفروشۍ له څښتن سره بحث کړې چې دا ډول پلور په کومه طریقه باندې ترسره کوي.

**اول مبحث : په قسطونو پلورل**

اول مطلب : په قسطونو د پلورلو مفهوم

تقسیط په لغت کې د قسط څخه اخیستل شوې او په لغت کې د جز، نصیب، او حصی په معنی سره راځي لکه (قسط الشئ ) هغه شی یې برخی کړ او یا (قسط الدین ) پور یې برخه برخه کړ او په ټاکلو وختونوکې یې پور ورکونکي ته ورکړ ( معجم اللغة العربیة المعاصرة لاحمد مختار۳/ ۱۸۱۱).

او په اصطلاح کې: علماؤ په لاندې توګه تعریف کړې (دا هغه بیعه ده چې په نیټه دارو روپو باندې په لوړ نرخ وپلورل شي اګر که په فعلي نرخ ارزانه وي چې دغه نیټه دارې روپۍ بیا په بیلا بیلو وختونو کې دقسطونو په ډول پلورنکي ته ورکول کیږي) (المعاملات المعاصرة لوهبة الزحیلي ص ۳۰۸ ).

(او یا هغه بیعه ده چې یو شی په نیټه وپلورل شي او په اتفاق د عاقدینو سره پلورنکي ته په معلومو قسطونو د هغې روپۍ ورکړل شي) (معجم لغة الفقهاء لقلعجي و لقنیبي ۱ / ۱۴۱ ) د ښه پوهاوي لپاره لاندې احکام څېړم.

**دویم مطلب: په اسلامی فقه کې په قسطونو سره د پلورلو حکم**

په قسطونو سره د شیانو پلورلو کې دوه نظرونه موجود دي چې یو نظر د هغه علماؤ دی چې هغوی جواز ورکړی دی دا د اکثرو علماؤ او څلورو مذهبونو امامانو قول هم دی چې ابن حجر رحمه الله ورباندې

اجماع هم نقل کړې ده او دوېم نظر د هغه علماؤ دی چې هغوی تقسيط حرام ګڼلی دی دا نظر د امام الباني، زين العابدين بن الحسين او هادويانو رحمهم الله دی(نيل الاوطارللشوکاني١٥٢/٥).

## د جواز ورکوونکو علماؤ دلائل

**١ ــ** الله جلَّ جلاله) فرمايي: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ» (البقرة / ٢٨٢).
ژباړه : ای مؤمنانو کله چې د کومې ټاکلې نيټې لپاره تاسې په خپلو منځونو کې د پور د راکړې ورکړې معامله کوئ نو هغه وليکئ. ايت دليل دی په پور سره پلورلو باندې او الله (جلَّ جلاله) په کې حاضر وخت نه دی ياد کړې بلکې د پور يادونه يې پکې کړې ده همدا راز الله (جلَّ جلاله) فرمايي « وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا » (البقرة / ٢٧٥). ژباړه : په داسي حال کې چې الله (جلَّ جلاله) بيعه اخيستل او خرڅول يې رواګرځولی او سود يې ناروا کړې د ی. دا ايت مطلق ذکر دې چې د هر ډول پلور په روا والي باندې دلالت کوي تر څو د حرمت دليل پرې نه وي پيدا شوی.

امام طبري رحمه الله په خپل تفسير کې د دې آيت په هکله سبب نزول ذکر کړی دی چې د ناپوهۍ په دور کې به عربانو په نيټې سره پلور کاوه او بيا به يې د نيټې په مقابل کې زيادت اخيسته؛ نو الله (جلَّ جلاله) دغه ايت نازل کړ او بيا ور زياتوي چې پوروړي به پور ورکوونکي ته وويل ماته نيټه زياته کړه زه به درته روپۍ ډېرې کړم نو دا يو ډول سود وو چې د جاهليت په دور کې يې دود وو الله (جلَّ جلاله) يې د حرمت په هکله پورتنی آيت نازل کړ ( الطبري، جامع البيان في تفسير القرآن، ٦٩/٣).

**٢ ــ** په صحيحينو کې د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت نقل شوی دی هغه وايې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغلی وه او خلکو به په ميوو کې د پور پير او پلور نه کاوه بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «من أَسْلَفَ فَلَيَسْلِفْ في كَيْلٍ مَّعْلُومٍ وَوَزنٍ معلومٍ الى أجلٍ مَّعلوم» (صحيح البخاري، حديث رقم(٢١٢٤). ژباړه: څوک چې د پور پلور کوي وزن او کيل ورله معلوم کړي نيټه دې هم ورله معلومه کړي، دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم د حاضر وخت لپاره کوم شرط نه دی ايښی.

**٣ ــ** عن عبد الله بن عمرو بن العاص أن النبي صلى الله عليه وسلم «أَنَّ رَسُولَ - صلى الله عليه وسلم - أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا فَنَفِدَتْ الْإِبِلُ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ عَلَى قَلَائِصِ الصَّدَقَةِ. قَالَ: فَكُنْتُ آخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ» (سنن أبي داود حديث رقم ٣٣٥٧). ژباړه: د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي يقينا رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم وکړ چې په اوښانو سپاره شئ او جنګ ته لاړ شئ، کله چې يې اوښان وشمېرل کم وو؛ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته امر وکړ چې د نورو اوښانو د صدقو راتګ پورې د دوه اوښانو پرځای يو اوښ په نيټه راواخله او دوه د دريو په نيټه راواخله او په روپو کې يې هم د نيټې په مقابل کې زيادت راوستلو.

حديث پدې دليل دی چې په نيټه باندې د يو شي په زيادت سره اخيستل جواز لري ځکه که جواز يې نه درلود؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ولې صحأبي ته امر کوي چې په نيټه باندې اوښان واخله.

٤ ــ د بريري رضی الله عنها قصه چې د خپلو بادارانو څخه يې په اوو اوقيو ځان اخيستی وو چې هر کال به يې يوه اوقيه ورکوله او نبي عليه السلام د دې عمل څخه منعه نه کړه. پورته حديث د تقسيط په جواز والي دليل دی ځکه چې بريري د قسطونو په مقابل کې ځان آزاد کړ او رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغه کار څخه منعه نه کړه.

٥ ــ عن عائشة رضی الله عنها «أن رسول الله صلی الله عليه وسلم اشتری طعاما من يهودي الی أجل فرهن درعه» (صحيح البخاري حديث رقم ٢٣٧٨). ژباړه: د عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايې رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو يهودي څخه طعام واخيست او په ګرو کې يې ورسره خپله نيزه کېښوده. پورته حديث پدې دليل دی چې نبي عليه السلام يهودي ته نيزه په ګروی ورکړه او طعام يې ورڅخه واخيست او دا معلومه ده چې يهود بغير د زيادت څخه پور نه ورکوي.

٦ ــ په دې ډول تړون کې د طرفينو لپاره ګټه موجوده ده او هيڅ يو ته ضرر نه رسېږي خرڅونکی خپله ګټه اخلي او اخيستونکی د نيټې څخه ګټه پورته کوي چې په دې کې يو ډول تيسير او اساني ده او که په خلکو باندې دغه ډول تړون بند شي نو د تکليفونو سره به لاس او ګريوان شی. همدا ډول که پورته دليلونو ته زير شو نو د زيادت په جواز کې يې کومه خبره نه ده کړې خو که د نصوصو عموميت ته وګورو د جواز غوښتنه کوي؛ ځکه په ټولو شيانو کې اصل اباحت دی ترڅو د حرمت دليل نوې موجود شوی، همدا ډول پدې تړون کې د طرفينو تر منځ هغه رضايت موجود دی چې د شريعت د نصوصو سره په ټکر کې نه وي.

## د حرام ګڼوونکو علماؤ دلايل

١ــ عن أبي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم «مَنْ بَاعَ بَيْعَتَينِ في بيعٍ فله أوكَسهُما أو الرِّبا» (سنن أبي داؤد حديث رقم(٣٤٦٣) ، ٣ / ٢٩٠). ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه فرمايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې چا چې په يوه بېعه کې دوه بيعې وکړې نو ده لره اختيار دی که يوه بېعه په تاوان خرڅوي او بله په ګټه.

٢ . القياس علی زيادة الدين مقابل زيادة الأجل: قسطونو سره پلور په هغه پور قياس دی چې يو چاته په زيادت سره تر يوې نيټې ورکړل شوې وي، څرنګه چې په پور زيادت اخيستل جواز نه لري همدغه ډول د تقسيط په پلور کې په نيټې سره اخيستل هم جواز نه لري (فقه المعاملات المعاصره لوهبة الزحيلي، ص ٣١٠).

**ترجيح:** د جمهورو قول راجح دی ځکه چې د دوی دلايل راجح دي او عرف هم ورباندې عمل کړی او که خلك يې تر سره نه کړي؛ نو د ډېرو ستونزو سره به مخ شي. دويم قول علماؤو په قياس مع الفارق باندې استدلال کړې چې نوموړي عقد يې د پور سره قياس کړې او په پور باندې زيادت اخيستل سود دی او سود حرام دی. په تقسيط کې چې کوم زيادت اخيستل کېږي هغه د مبيعی د تأخير په سبب اخيستل کېږي نه د پور له امله؛ نو ځکه د جمهورو قول راجح دی( البيع بالتقسيط وأحكامه المعاصرة لسليمان محمدبن عمر، ص ٦٢ ).

**دویم مبحث: د قسطونو پلور لپاره ضوابط، آداب او تطبیقي بیلګې یې:**

**لومړی مطلب: د قسطونو پلور لپاره ضوابط**

د قسطونو پلور د سموالي لپاره مهم شرطونه په لاندې ډول دي:

۱- موده به یې معلومه وي.

۲- د مبیعې د تسلیم له وخته به د قسطونو مودې ته اعتبار وي.

۳- د سود شبهې نه به خالي وي.

۴- قسطونه به په سودي فایده باندې مشتمل نه وي(بیع التقسیط وتطبیقاته المعاصرةدراسة فقهیة مقارنة دکتور حسن السید حامد خطاب).

**دویم مطلب: د قسطونو پلور لپاره آداب:**

فقهاءو د قسطونو پلور لپاره لاندې آداب وضع کړیدي:

۱- په دې معامله کې به پلورنکې او اخیستونکې پراخوالی نه کوي یعنې ټول پلورل او اخیستل به د قسطونو په شکل نه کوي؛ ځکه پلورنکي ته به ګټه یا رأس المال په درست ډول نه تسلیمېږي هغه له دې کبله چې کله به په اخیستونکو باندې د تنګسیا حالت راځي چې بیا به قسطونه په خپل وخت نشي اداء کولای (مجموع فتاوی ابن تیمیة، ۲۹ / ۵۰۱).

۲-اخیستونکی به پر قسطونو پلور ته وړاندې والی نه کوي مګر کله چې د قسطونو اداء کولو توان ولري، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې وینا له کبله چې فرمایلي دي: «قَالَ مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّاهَا اللَّهُ عَنْهُ وَمَنْ أَخَذَهَا يُرِيدُ إِتْلاَفَهَا أَتْلَفَهَا اللَّهُ» (صحیح البخاري، باب من أخذ أموال الناس یرید أداءها او اتلافها، ۲/ ۵۱۷). ژباړه : چاچې د خلکو نه قرض مالونه په دې اراده واخیستل چې بېرته یې ورته واپس کړي الله به یې ترینه واپس کړي او چاچې ترینه په دې اراده واخیست چې ورله هلاک یې کړي؛ نو الله به یې ترینه هلاک کړي .

۳- پلورنکي به د قسطونو له کبله په ګټه کې ډیر زیات زیادت نه کوي، ځکه اصل د مالونو په روا والي کې د نفس خوښي ده لکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لایَحِلُّ مال امرئٍ مسلم اِلاَّ بِطِیْبِ نفْسٍ منه» (صحیح البخاري، باب الخطبة أیام منی، ٦١٩/٢، سنن الترمذي، ۵ / ۲۷۳). ژباړه: د مسلمان مال نه روا کېږي مګر د هغې په خوښې ښودلو سره، پس هرکله چې د خوښی شرط د هر سبب له کبله موجود نه وي؛ نو بیا د مال اخیستل روا نه دي په دې کې د مجبورتیا له کبله شبهه د حرامو راځي (مجموع فتاوی ابن تیمیة، ۵۰۱/۲۹، نهایة المحتاج، ۳ /۴۱۰).

٤ . پلورنکی او اخیستونکی به د ښایسته فیصلې څښتان وي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «رَحِمَ اللَّهُ عَبْدًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ سَمْحًا إِذَا اشْتَرَى سَمْحًا إِذَا قَتَضَى» (صحیح البخاري، باب السهولة والسماحة في الشراء والبیع، ۷/ ٥۳٦). ژباړه: الله دې په هغه بنده رحم وکړي چې په پلورلو، اخیستلو او قرض غوښتو کې اسان والی کوي.

**دریم مطلب: قسطونو د پلور تطبیقي بیلګې او مثالونه یې**

بائع ته د مشتري لخوا د قسطونو اداء کولو یو څو صورتونه دي.

۱- هر هغه څوک چې موټر یا یو بل شی پر قرض باندې واخلي، ټولې پیسې یا ځینې پیسې راتلونکي کې ورکوي، یا یې پر قسطونو سره ورکوي په میاشتني یا کلني قسط سره؛ نو دا قسم اخیستل او خرڅول جایز دي اګر که د قسطونو یا نیټې سره اخیستلو نرخ پر نغدو اخیستلو څخه زیات وي .

۲- موظف یا کار کونکی یا د دې دواړه نه سوا هر هغه څوک چې د خپل اړتیا وړ توکي د دوکاندار یا قصاب څخه لکه صابون، غوښه یا د دې په شان نور توکي میاشتني حساب سره اخلي یعنې د دې توکو قیمت د میاشتی په پای کې کله چې خپل معاش ترلاسه کړي ور یې کړي؛ نو دا قسم اخیستل او خرڅول هم صحیح دي.

۳- څوک چې بل چا ته ووایي: ته دا توکي په دې نرخ سره واخله، زه به یې ستا څخه پر دومره ګټه واخلم، امام شافعي دا قسم اخیستل او خرڅول جایز کړي، په خلاف د مالکیانو او حنابله وه.

۴- ښځې یا سړې چې د سرو زرو یا سپینو زرو نه جوړ شوي کالي لکه بنګړي پر نیټې سره واخلي، ټولې پیسې یا ځینې وروسته ورکړي دا قسم اخیستل حرام دي؛ ځکه په دې سره سود رامنځته کیږي چې (ربا النساء) ورته ویل کیږي، ځکه سره زر او پیسې د یوې ډلې څخه دي. له دې کبله ځینې ښځې څه مال ذخیره کوي، بیا په هغې سره ګاڼه اخلي او دا کار په شریعت کې ناروا دی؛ ځکه چې سود پکې رامنځته کیږي. که چېرته په نیټه خرڅونکی شی د سروزرو او سپینو زرو نه پرته بل شی وي او نه خوراکي توکي وي لکه غنم، وربشې، خرما، ممیز او مالګه، نو بیا پکې اخیستل، خرڅول جایز دي او سود پکې نه واقع کیږي.

۵- چاچې د قرباني مال یا بل حیوان پر قسطونو واخیست، دا قسم اخیستل جایز دي، ځکه حیوان په خپل حال باندې خوړونکی نه دی، اګر که د غوښې خوراک یې جایز دی، پس غوښه یې د ذبحې څخه وروسته خوړل کیږي او زیادت پکې راځي.

۶- چاچې سره زر په سرو زرو او سپین زر په سپینو زرو سره او غله جات په غله جاتو سره وپلورل، یو یې نغد او بل یې پرنیټه باندې وو، دا قسم اخیستل خرڅول جایز نه دې؛ ځکه دې کې په اتفاق د فقهاءو سره سود واقع کیږي، پس دا به یا د وزن کیدونکو نقودو، پیسو، غذایي توکو، ذخیره کیدونکي او خوراکي شیانو څخه وي. که څوک اوسپنه په اوسپنه، مالوچ په مالوچو پلوري، د دواړو څخه یو په نیټه باندې تسلیموي، دا قسم پلور د احنافو او حنابلو په نیز باندې ناروا دی، ځکه د دوی په نظر هغه شیان چې پیمانه کیږي او وزن شي د سود له ډلې څخه دي. که څوک غله جات په میوو په نیټې سره وپلوري دا قسم پلورل سوا د مالکیانو نه د جمهورو په نظر ناروا دی؛ ځکه دلته علت د وزن او طعم موجود دی او د مالکیانو په نظر د نورو علماءو په خلاف میوه جات غذایي او ذخیره کیدونکي توکي نه شمېرل کیږي؛ نو سود پکې نه واقع کیږي(المعاملات المالیة المعاصرة لوهبة الزحیلي ۳۲۸-۳۲۹-۳۳۰).

۷- د ننګرهار اسلامي بانک مدیر (قسیم الله) سره مې د پنجشنبې په ورځ په (۹ / ۶ / ۱۴۰۲) نیټه وکتل

او ور څخه ومې پوښتل چې تاسې په قسطونو سره تعامل کوئ هغه راته وویل هو مونږ دوه ډوله قسطونو سره تعامل کوو.

لومړې: کله چې یو شخص زمونږ څخه یا د کومې بلې مؤسسې یا شرکت څخه یو شی په نېټې سره واخلي نو مونږ یو سند ورکوو چې په دغه سند کې د پېرودونکي نوم او نور اړوند ټول معلومات سره د قسط مبلغ هم پکې لیکل شوي وي چې دغه قسط بیا په اونیز، میاشتني او ټاکلو نېټو سره خلاصوي.

دوېم: کله چې یو عمیل چې خپله دمبیعې د اخیستلو توان ونه لري مونږ ته راشي او له مونږ څخه مطالبه وکړي چې یوه سلعه راته واخلئ؛ نو مونږ د نوموړي مطالبه منو او بازار ته ځو، هغه مبېعه چې عمیل یې اخیستل غواړي هغه بیه کوو، د هغې هر اړخیز معلومات عمیل ته وړاندې کوو او یو توافق ورسره کوو چې دغه مبېعه درته مونږ اخلو؛ خو په تا یې د هغه قیمت څخه چې مونږ یې اخلو لوړ پلورو. خوښه ستا چې پیسې په یو وار راکوې او که په قسطونو یې راکوې؛ نو بیا مشتري ته دغه مبېعه سپاري او مشتري دغه بانک ته خپلې پیسې په ټاکلي وخت سپاري او یا یې هم په قسطونو ورکوي. دغه ډول معامله په بیع المرابحة للآمر بالشرا سره مشهوره ده چې مخکې ورته اشاره شوې ده (قسیم الله، د ننګرهار اسلامی بانک مدیر، موبایل شمیره ۰۷۸۷۹۳۳۴۸۲).

۸- شمشاد د موټرو بارګین چې ننګرهار ولایت جلال آباد ښار شپږمه ناحیه اردو کلا په سیمه کې موقعیت لري د نوموړي بارګین مسئول حاجي (عبدالنصیر) سره مې د پنجشنبې په ورځ (۹ / ٦ / ۱۴۰۲) نېټه وکتل او پوښتنه مې ترې وکړه، آیا تاسو د موټرو په پلور او پېر کې د قسطونو تعامل کوئ؟ نوموړي راته په ځواب کې وویل هو! مونږ یو موټر په نغدو په شپږ زره ډالره خرڅوو که بیا یو څوک په قسطونو سره اخلي نو بیا یې پرې په شپږنیم زره ډالره خرڅوو چې نیمایي قیمت ترینه نغد اخلو او باقي پاتی پیسې ترینه بیا په میاشتني ډول په دوه یا درې قسطونو کې اخلو (عبدالنصیر، د ششاد موټرو بارګین مسؤل جلال اباد ښار، موبایل شمیره: ۰۷۸۰۲۱۰۱۸۵)

**پایلیزه**

د دې لیکنې څخه مونږ ته دا خبره جوته شوه چې اسلام د ټولو هغه قضایاوو او علمي مسائلو علاج کړې چې مسلمانان ورته اړتیا لري ترڅو د شیطان ښکار نه شي او په ناروا کې واقع نه شي؛ نو د معاملاتو مسائل یې هم څېړلي تر څو خلک په سود کې واقع نه شي، دلته زه د ځینو هغه امورو ذکر کوم چې په دې لیکنه کې ځواب ورته پیدا شوې ده:

۱- د قسطونو پلور د مشروعو پلورونو څخه ده او پر مشروع والې باندې یې د شریعت عام دلایل دلالت کوي او دا د جمهورو فقهاءو نظر دی.

۲- د قسطونو پلور مشروعیت هغه مالونو پورې مقید دی چې سود پکې نه واقع کېږي؛ ځکه تأجیل یا قسطونه د جنس پر جنس سره بدلولو کې نه دې جایز.

۳- د قسطونو بیعه د (بیع، وشرط) او نه (بیعتین في بیعة) یعنې په یوه بیعه کې دوه بیعې کولو د ډلې

څخه نه ده.

۴- دا چې د جمهورو په قول سره دا پلور مشروع دی، لیکن غوره دا ده چې په ټولو سوداګریزو معاملاتو کې د قسطونو پلور ترسره نه شي؛ ځکه په ځینو حالاتو کې د دې نه ضرر هم پیداکېږي.

۵- پلورنکي باندې دا لازم دي چې اخیستونکي سره اسان والی وکړي او د هغه اړتیا درک کړي چې پر قسطونو ترینه سامان اخلي او د قسطونو په مقابل کې ترینه زیاته ګټه ونکړي.

٦- پر اخیستونکي لازم دی چې قسطونو اداء کولو کې وروسته والی ونکړي او پرخپل وخت قسط اداء کړي.

وړاندیزونه:

١ - ټولو مسلمانانو ته مې دا وړاندیز دی چې په اخیستلو او خرڅولو کې آسان والی وکړي.

**۲-** هغو مسلمانانو ته مې وړاندیز دی چې د تقسیط بیعه ترسره کوي په اړه یې پوره پوهه او فقهي تحلیل ولولي؛ ترڅو ځان پرې پوهه کړي.

۳- د شرعیاتو پوهنځي او اسلامي ثقافت علمي کادر غړو ته مو دا وړاندیز دی چې د تقسیط بیعې په اړه لا زیات تحلیل او د علماوو او پوهانو نظرونه روښانه کړي.

**سرچینې**


القرآن الكريم.

ابن تيمية،احمد بن حليم مجموع فتاوى ابن تيمية دراسة وتحقيق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية،المملكة العربية السعودية - ١٤١٦هـ/١٩٩٥م.

ابراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، المعجم الوسيط ـ دار الدعوة.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن علي أبو الفضل جمال الدين الانصاري الأفريقي، لسان العرب، دار المعارف القاهرة، ۱۴۲۲.

أبو داود، سليمان بن الأشعث السجستاني (المتوفى ٢٧٥هـ) سنن أبو داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط ـ محَمَّد كامِل قره بللي، دار الرسالة العالمية،الطبعة الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م .

بخاري ، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي( ۱۴۲۲هـ ) الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه ، تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر، دار طوق النجاة، طبعة الأولى، ۱۴۲۲.

رملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة ابن شهاب الدين الرملي الشهير بالشافعي الصغير. نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، دار الفكر، ١٤٠٤هـ - ١٩٨٤م، بيروت .

زحيلي ، د / وهبة ( ۲۰۰۲ م ) المعاملات المالية المعاصره بحوث وفتاوى وحلول، دمشق دار الفكر، ۲۰۰۲م

سليمان محمدبن عمر، البيع بالتقسيط وأحكامه المعاصرة، قسم الشريعة والقانون ، كلية الشريعة والقانون، جامعة الاسمرية.

شوكاني ، محمد بن علي بن محمد ،نيل الأوطار شرح منتقى الأخبار من أحاديث سيد الأخيار، طبري ، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري، جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن التركي، دار هجر، الطبعة الاولى، ۱۴۲۲هـ- ۲۰۰۱.

عبدالنصير ، شمشاد موټر بارګين، ننګرهار جلال اباد، څلورمه ناحيه قلعي اردو ، موبايل شميره: ۰۷۸۰۲۱۰۱۸۵

عدنان محمد سليم سعدالدين ، بيع التقسيط وتطبيقاته المعاصرة في الفقه الاسلامي، رسالة ماجيستير ، جامعة دمشق ،كلية الشريعة ، قسم الفقه الاسلامي وأصوله.

قلعجي محمد رواس - قنيبي حامد صادق ، معجم لغة الفقهاء دار النفائس، الطبعة الاولى، ۱۴۰۵هـ- ۱۹۸۵م.

محمد عقلة ابراهيم،حكم بيع التقسيط في الشريعة والقانون، مكتبة الرسالة الحديثة.

# حكم بيع التقسيط في الفقه الاسلامي وأمثلته التطبيقية

**شفيع الله اميني[1]، احمد غيور يوسفزى[2]**

[1،2] قسم الثقافة الاسلامية ، كلية التعليم والتربية، جامعة لوجر.

البريد الالكترونيكي: shafiamini2233@gmail.com

**المستخلص**

يدور هذا الموضوع حول تعريف بيع التقسيط وأحكامه وأمثلته المعاصرة في ضوء الفقه الاسلامي، والغرض من الموضوع تعريف بيع التقسيط، حكمه، ضوابطه، شروط صحته وأمثلته التطبيقية، ومنهج البحث استقرائي وميداني، وقد تكون نتائج البحث: أن مشروعية البيع بالتقسيط تقتصر على البضائع التي لاتتحقق فيها الربا، ولذلك لايجوز التقسيط في مبادلة الجنس بالجنس، وبيع التقسيط ليس من البيعتين في بيعة واحدة. ويجوز بيع التقسيط عندالجمهور، ولكن الأفضل عدم البيع بالتقسيط في جميع المعلاملات التجارية وعدم استخدامها كوسيلة في اجراء المعاملات، لأنه في بعض الحالات يفضي الضرر.

**الكلمات المفتاحية**: اسلام، بيع، تقسيط، حكم، فقه.